

د وطن په محبت باندې قسم خورم
چې د ځان له غمه زيات د وطن غم خورم
د ځان ګټې مې د دې وطن نه جار دي
هغه نه يم چې رشوت سود او سلم خورم
د وطن د شرف سپر يم نه ويريږم
که د تورو ګوزارونه دم په دم خورم

## د شهيد محمد هاشم وطنوال لنډه پېژندنه

شهيد محمد هاشم وطنوال د مرحوم محمد عمر زوی په ۱۳۳۱ هـ لمريز کال د ارزګان ولايت د ترين کوټ ښار د طوري په کلي کې سترګې و دې نړۍ ته خلاصې کړې.

خپلې مذهبي مروجې زده کړې يې د خپلو سيمه ييزو مذهبي علماو څخه لاس ته راوړې ، وروسته لمړنۍ او منځنۍ زده کړې يې د ترين کوټ د سيدال ناصري په ليسه او لوړې زده کړې يې د کيميا او بيولوژي په څانګو کې د کابل پوهنتون د ساينس په پوهنځي کې سر ته ورسولې.

نوموړي د خپل دنده ايز فعاليت په ترخ کې د کابل ښار د ساينس مرکز او بيا د ارزګان ولايت د پوهنې مديريت د سوپروايزر ، د پوهنې وزارت د اداري رئيس ، د هرات ولايت مستوفي ، د فوايد عامې وزارت د کور جوړونې د تصدۍ رئيس ، د کورنيو چارو وزارت د اداري رئيس او معين ، د لوګر او خوست ولايتونو د والي او د سيمه ئيزو ارګانونو د څانګې د رئيس په توګه خپلې وطنپالې دندې په ډيره ميړانه او شهامت سرته رسولې دي.

شهيد وطنوال د ارزګان ولايت د يو منلي او با نفوذه شخصيت په توګه د هماغه ولايت څخه د ولسي جرګې پنځلسمي او شپاړسمې دورې ته د خلکو د رايو په ګټلو سره د ملت کور ته لاره ومونده.

شهيد وطنوال د خپلو ژونديو فعاليتونو په لړ کې تل د خپلو خلکو و ارادې ته احترام او پاملرنه کول نوموړی تل د يو زړسوانده او د ولس په دردونو د دردمند وکيل په توګه د خپلو خلکو په چوپړ کې ولاړ ؤ.

شهيد وطنوال د خپل وکالت په شپږ کلن ماموريت کې خپلو خلکو او وطن ته د خدمت ځلانده ستوري وه.

نوموړی د ولسي جرګې په پنځلسمه دوره کی د خلکو د فعال استازی په توګه د مرکزی تفتیش د کمیسیون د رئیس او د دریم خط د پارلماني ګروپ د فعال غړي په توګه په ډیره موثره او اغیزمنده توګه دندي سر ته رسولي دي.
مرحوم وطنوال د ولسي جرګې په اوسنۍ دوره کی د دفاعي چارو کمیسیون د مرستیال په توګه کار کاوه.
شهید وطنوال د خلکو سره په رابطه کي د ډیرو عالي خصلتونو او اوصافو خاوند زۀ نوموړی رښتینی ، یو مخی انسان او د قوي ارادي ، متواضع کرکټر او د ورین تندی درلودنکی ۇ په کار ، فعالیت او ټولنیز ژوند کي فولادي عزم د ده د لاری څراغ وه.
نوموړی د هیواد په پیچلو او کړکیچونو حالاتو کي د ټولنیز عدالت او ډیموکراسي د تامینولو په لاره کي شپه او ورځ نه ستړي کیدونکی هلي ځلی کولی. خداي بخښلی وطنوال د ولسي جرګې او هیواد په اوسنیو پیچلو حالتونو کی د ستونزو د قانونی او سوله ئیز حل لارو چارو ملاتړ کاۇ او د دولت د قواؤ تر منځ د همغږو هلو ځلو پلوي ۇ.
شهید محمد هاشم وطنوال د خپلو سیاسي هلو ځلو په لړ کی د خپلو نورو روڼ اندو ملګرو سره په ۱۳۸۲ کال کی د افغانستان د ملي ګوند بنسټ کیښود او دا مهال د دی ګوند د رهبری شورا غړی ۇ.
د وطن قسم خوړلو دښمنانو چي د هیواد اقتصادی او ټولنیز ژوندانه د شیرازي ورانولو ته ئی ملا تړلي ده یو ځل بیا د خپلو جنایاتو په لړ کي د هیواد د دو صادقو بچیانو ژوند واخیست او په پراخه پیمانه کي د هیواد خلک او په خاصه توګه د ارزګان ولایت خلک ئی د غم پر ټغر کښینول.
هو همدا غمیزه د چنګاښ د میاشتي په ۲۲ نیټه د یکشنبي د ماښام په اتو بجو د وطن پلورونکو دښمنانو لخوا د کابل ښار په څلورمه کارته کښی د یو قاتلانه برید په جریان کي یې د شهادت جام وڅښه.
خداي بخښلي وطنوال واده کړي ، څلور لوڼی او دری زامن تري پاتي دی.
مونږ هیله مند یو څو د ده پارلماني ، ګوندی او شخصی ملګري او کورنی ئي د خپل شهید د حق او عدالت لاره تعقیب کړي.
په پاي کی: د افغانستان ټولو ولس د ده نږدی دوستان او کورنی ته د لوي خداي ج څخه جمیل صبر او ده ته برین جنت غواړو.

روح دې ښاد وي